مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۴/۰۲/۲۸

لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

۲۷۵مه برخه

زما قسمت د سالنګ غر دی
پر نورو لمر دئ، پرما واورې وروینه

ځانله قلم واخله جانانه
د ټوپک مینه به دې ورک له ملکه کړینه

په تهمتو څوک نه تورېږي
که تورېدلای اوس به تکه توره ومه

د رواجو ستم دې ورک شي
چا چې جوړ کړي، اوس دې خپله ګرځوینه

د دې برخې لهپاره دا نوې لنډۍ راټولې شوې دي:

ما په پردو غرونو کې خښ کړئ
وطن ته مهوړئ د ژړا څوک نهلرمه

د دونیا هرڅه به شي پاتې
د لارېمل به خپل عمل درسره ځینه

مور مې ژوندۍ ده پروا نهشته
ناست په ایرو یم، ځان پر تخت حسابومه

سترګې مې تاپسې رندې شوې
ورکه جانانه تا به چېرته لټومه

زما قسمت د سالنګ غر دی
پر نورو لمر دئ، پرما واورې وروینه

مونځ مې کولو شوې رایاده
ملا ولاړ ؤ زه سجدې ته ښکته شومه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

هېڅ مې له وسه پوره نه دې
په پېغورونو به دې سترګې پټومه

موری غمونو ته دې ستر کړم
کمکی دې مړ وای، چې مې نه لیدای غمونه

ځانله قلم واخله جانانه
د ټوپک مینه به دې ورک له ملکه کړینه

خدایه په کبر یې شمار نه‌کړې
کمکی دې مړ وای چې مې نه لیدای غمونه

زما د زړهٔ مانۍ نړیږې
حالاتو سختې زلزلې راوستې دینه

چې مې له بدحال یار خبریږې
په ما به درد د زړګي څه، څه کړې‌وینه

زما لالا له زیری ورکړئ
پښتو دې سر شوه زهٔ دې خاورې ایرې کړمه

جولاګان ښهٔ دې غم یې نشته
ورک افغانان کړې، لکه سپې کوي جنګونه

کیشکرې بیا زېری راوړی
د جانان شپې ورځې نږدې دې، رابه شینه

په تهمتو څوک نه تورېږې
که تورېدلای اوس به تکه توره ومه

د رواجو ستم دې ورک شي
چا چې جوړ کړي، اوس دې خپله ګرځوینه

ته چې را درومې تللیه یاره
ما به مې ځان په زهرو ټول لړلی‌وینه

زړه مې له تورو وینو ډک دی
خدایه سلګۍ شم او که چغې ګډې کړمه

د جانان دوه ګوتې کاغذه
لکه تعویذ دې تل په غاړه ګرځوومه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ